AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

دوديال ۲۰۱۹/۰۴/۱۲

# د اوربنتونو پسرلی، د سولې خبرې او د امريکاييانو وتل

## «سالی که نیکوست، ازبهارش پیداست»

اوولس کاله مخکې امريکا د طالبانو رژيم پای ته ورساو او په افغانستان کې ديره شول، ورسره یوځای لږ شمير له لويديځ ښخه راغلو تکنوکراتانو او زيات شمير پخوانيو جنګسالارانو د دولت مهم دريځونه ونيول، پوره اندازه بهرنۍ مرستې راجاری شوې، دحکومتولۍ طرز لويديزې ديموکراسۍ ته ورته جوړ او پر اقتصادی نظام(سيستم) ظاهراً د نيولبرال نظريه حاکمه بلل کيده، اساسی قانون کې درې قواوی تفکيک شوې، پارلمان جوړ او په اساسی قانون کې په لسمه ماده کی دهيوادلپاره د بازار نظام ومنل شو. بهرنيو مرستو سره ګڼ شمير موسسات چی راز راز مقاصد يې لرل فعاله شول، د مطبوعاتو او وينا دازادی په نوم ګڼ شمير راډيوګانو توتلويزيونونو خپرونې پيل کړې. له بده مرغه بهرنيومرستو تر ډيره بريده د (ODA)يا( Official Development Assists/Aid) بڼه نه درلوده او په واقعی معنا ورڅخه د پرمختيا او بيا رغاونې لپاره کار وانخيستل شو، تنظيم شوی فساد ورځ په ورځ پراخ، دعياشی روحيه پياوړی، بوالهوسی زياته، دمطبوعاتو منځپانګه پوچه او په بازار کی تقلب زيات او د اجناسو کيفت خراب، بيعدالتی څرګنده، په حساسوموقفونو کې بی کفايته او ناپوه کسان مقرر او ډير نور منفی اجراات چی ياودنه يې ضرور نه ده، ترسره شول او دخلکو زړه له حکومتولۍ ښخه تورشو.

د نوې سياسی پروسې دپيل په درېيم کال بيرته طالبان را څرګند شول، په امنيتی ارګانو کې د ځانګړې ډلې د ډير صلاحيت له امله دتعصب له مخې دهيواد ختيځ او جنوب کې ډير خلک وځورول شول او په غلطو اطلاعاتو سره ډېر خلک بيګناه له منځه ولاړل، په بلخ، جوزجان، فارياب او نورو سيموکی د بې وسلی اوبی وسيلی خلکو ځمکی غصب او له خپلو مينو وشړل شول، دکوچيانو او "ده شينو" ترنوم لاندې د قومی اوژبنی تعصب اور بل او عاجز خلک ووژل شول او مالونه يې لوټ شول. دغو عواملو د ولس او حکومت ترمنځ نور هم واټن زيات کړ. دهيواد بيارغاونې ته ډير لږ کار وشو، خو ډير فرصتونه او منابع له لاسه ووتل. قاچاق، توراو جرمی اقتصاد، پيسو مينځلو، دمخدراتو سوداګری، اختطاف، انتحار، علنی چپاول او قاچاق عموميت موند. په داسې يوه مساعد حالت کې په تدريج سره په ډيرو سيمو کې د طالبانو تسلط په پراخيدو و؛ په لومړی سر کې د طالبانو جنګ د شراوفساد دعناصرو او د امريکايی اشغال په وړاندې و، په دغې روحيې سره په زرګونو هلمندی ځوانان، دکندهار او زابل ميړنې ساده او احساساتی خلک، دپکتيا، ميدان وردک، ننګرهار او لغمان هغه په دينی مدرسو کې روزل شوی ځوانان قربان شول چې د نظامی ځواکونو د بيځايه يرغلونو او تعصبی چلند له امله يې سيمې بمباری او کورونه او کلی يې شپنيو عملياتو کی وپلټل شول او د دوی کورنۍ، تورسرو، عزت اوسپينږيروته په سپکه وکتل شول.

په دولتی ادراتو، امتيازاتو، پوهنتونو،تحصيلی بورسونو، دولتی بستونو او ډيرو نورو عامه خدماتو وړاندې کولو کې تبعيض اوتعصب له ورايه څرګند و. دغه وضعيت د افغانستان تاريخی ګاونډيو دښمنانو ته ښه وسيله په لاس ورکړه، سياسی، استخباراتی پيچلی لوبه توده شوه. ورو ورو يې د افغانستان جګړه کورنيو، سيمه ييزو اوله سيمی ښخه بهر عواملو پورې وتړله، سيمه ييزو لوبغاړو خپلی ستراتيژيکی ګټې په پا م کی ونيولی، لويو غربی قوتونو يوځل بيا نوی لويه لوبه (NGG ) پيل کړه او دټولو ښکيلو اړخونو رقابت په افغانستان کی په يوه خونړی جنګ بدل شو، اوس چې ترڅو دغه عوامل له منځه ولاړ نشي، عادلانه او پاييدونکې سوله نشي راتلای. په دې بهير کی د لومړی ځل لپاره په۲۰۱۰م. کال کې د امنيتی چارو د انتقال ترنوم لاندې يو اصلاحی حرکت پيل شو، دبهرنيانو د کمولو معقول فکر رامنځته، فساد سره دمبارزی شعار تود او دبهرنيو مرستو مصرفول د دولت او د ماليې دوزارت په ارشادی نقش سره مطرح شول. دا ښه پيل و، هيله وه چی په تدريج سره به بهرنی قوتونه له هيواد ښخه ووځي،



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

خو د سیمې نظامي او استخباراتی کړیو دغه موقع یو ښه فرصت وباله او جګړه یې لاخونړۍ کړه. کله چې ځلور کاله مخکې انتخابات وشول، ولسمشر نوی جدی تدابیر مخې ته کیښودل:
سوله یې لومړیتوب وباله، دقومی ټیکه درانو او محلی زورواکو او جنایتکارو اصلاح ته اقدام وشو، دفساد دوسیې وسپړل شوې، اقتصادی لویو زیربنایی پروژو ته پاملرنه وشوه، خو دا وخت د جان کری په فرمایش د ولسمشر په واک کې نیم دولت و، نیم نور د ده مخالف و. په دې توګه د جان کری له خوا جوړ شوی نیم حکومت فلج څه چې بیرته د رغاونی او اصلاح په تخریب بدل شو، حال داچې امتیازات ورته رسول کیدل.
دوکتور اشرف غنی له ګاونډیو سره د دوستانه روابطو د ایجاد، د تروریزم دمرکز په عوض؛ دمدنیت په ځلور لارې د سیمی د بدلولو، د ترانزیت د شبکو د ایجاد، دجنوبی او مرکزی آسیا دوصل، د لویوملی انکشافی پروژو د اساسګذاری،.د اوبو او نورو طبیعی منابعو مدیریت، له انزوا څخه د افغانستان د ایستلو، دهیواد دننه د جنایتکارانو د فعالیتونو د محدودلو او د قدرت د معلوم هر فرعی کانون دله منځه وړلو اود یوه مقتدر، واکمن اصلاح شوی دولت د جوړولو اقدامات تر لاس لاندی ونیول.
دغو تدابیرو د افغانستان تاریخی دښمنان وارخطا کړل، تخریبی، استخباراتی فعالیتونه یې لاپیچلی او ګړندی کړل، له افغانستان سره یې د نیمه تمام عیار تود جنګ ترڅنګ تبلیغاتی، اقتصادی او مافیایی جنګ هم پیل کړ. څومره چې ولسمشر خپلو برنامو، اصلاحاتو او تدابیرو باندی تمرکز کاو، هومره جنګ ته شدت ورکړل شو، تر څو دغه اقدامات خنثی کړي. په دغه ټوله موده کی د دغې بدمرغی تباه کوونکې جګړې په کورني اړخ کې دجګړې په بندولو کې د افغانانوضعیف رول او د سیاسي ارادې نشتون، قومی افتراق، دلوټمارو اقتصادی ګټې، د مخدره توکو تولید او قاچاق، د ملي ګټو په پرتله د شخصي ګټو غوره بلل، په ټولنه او د دولت دننه کې د جګړه مارو شتون او اداري فساد څرګند عوامل و، نوځکه دوکتور اشرف غنی د سولې لومړیتوب ته ځیر او دسولې لپاره یې یوه نقشه جوړه کړه، تقریباً یوه ملې او بله سیمه یې بیزه اجماع رامنځته کړه، خو دواړه سبوتاژ شوې. دجګړې په ډیر خونړۍ کیدوسره دامریکی ولسمشر د خپلو عسکرو دایستلو پریکړه وکړه، خو سیمه کې یې خپل منافع هم ورته مهم و، نو یو داسې میکانیزم یې رامخی ته کړ که وکولای شی دافغانستان د ډیر ضعیف شوی او په فساد اوافتراق اخته حکومت په عوض، طالبانو سره یوه جوړ جاړی ته ورسیږی، خو په مرموز شکل ! دغه له احتیاط او مرموزتیا څخه د ډک جوړجاړی او سولې راوستو پروسې پټ او ښکاره شپږ میاشتې وخت ونیو. دوکتور اشرف غنی چې د لویو قدرتونو په لوبو اګاه او د سیمی په ټولو بارکیو پوه دی، ورسره یوځای د آبرومندی ، دایمی او عادلانه سولې هڅو ته لا زیات دوام ورکړ، آن دا چې څو ځله یې مذاکره کوونکو سره مخامخ جدی دیالوګ او لابی وکړه او تر ټولو مهمه دا چې د افغانستان د دولت د مخالفینو او د هغو د خارجی ملاتړو ترمنځ د روابطو او مناسباتو وضاحت یې وغوښت. دا هغه څرګند کلمات و چې دسردار محمد داوود خان له وخته تر اوسه دافغانستان د هر زعیم په زړه کې ګرځیدل، خو یوه هم په الفاظو نه و ویلی. دسیاست په ډګر کې دغې خبرې ګاونډې مغرضین سیاسی انزوا او شرمساری ته ټیل وهل .
منورینو هم خپل غږ اوچت کړ، چې تروریزم د ناامنې او جګړې یو مهم عامل دی او مذهبې متعصب رهبران د دیموکراسې، د ښځو د حقونو او د هیواد دپرمختګ مخالف او خنډ دي چې د جګړې لمن پراخوې. دا دی اوس د قطردغونډې، د مشورتی جرګې او بیا وروسې د انتخباتو پروګرام ترکار لاندې دی، خو آزمایل شوې منفورې څیرې دغو ټولو اقداماتو ته خنډونه جوړوي. طالبان په سخت موقف کې واقع شوي دي، دوی دافغانستان دولت سره د سولې له خبرو انکار وکړ او د دې په عوض یې دځینو مغرضو ګاونډیو په اشاره د امریکې لمن کلکه ونیوله، بیا یې روسیې او ایران ته مراجعه وکړه. امریکې دخبرو بهیر کې په سیمه کې د نظامی اډو د ترلاسه کولو علاقمندی نه پټوله، طالبانو دا هم احساس کړه چې پرته دګاونډیو له ښکاره حمایې ټول افغانستان نشی نیولای، ډیرو داسې هم وانګیرله چې د موجوده نظام له سقوط وروسته یوبل داسې بحران راتلونکی دی چې د نویمې لسیزې غمیزې څخه به هم بدتر وي.
دغو وروستیو ټکیو طالبان هم حیران کړي دي. د دوی سیاسې قشر چې په ټولو سیاسی او استخباراتی مسایلو آګاه دی موضوع ته له بل اړخ څخه ګوري، خو د دوی صفوف چې ساده، احساساتی اود پاک ضمیر کلیوال ځوانان دي په بمونو الوځي او هره ورځ دوی هم وژل کیږی او ګڼ شمیر نور هیواوال هم ورسره مالی او ځانی تلفات زغمي.
په دې ډول وضعیت کې په سیمه بیز اړخ کې د پاکستان دریځ لومړی د پام وړ دی چې له افغانستان سره تاریخی دښمني لري. دا ثابته شوه چې پاکستان د افغانستان دطبیعی منابعو، په تیره بیا د اوبو مسئلې ته ځیر او له هندوستان سره د احتمالی جګړې په اړه خپل ستراتیژیک اهداف لري، یعني افغانستان د پاکستان لپاره د ستراتیژیکی جبهې لومړنی سنګر ګرځیدلی دی. له دې پرته افغانستان ځانته د خپلو بی کیفیته محصولاتو یو مناسب بازار بولي چې زیرمې او اوبه یې ځانته د طبیعی ګنج په توګه رواګني او هیڅکله نه غواړي چې په افغانستان کې یو پیاوړی ملی زعامت ټینګ شي. نوځکه غواړي چې دپاکستان د ګټو یوساتونکی، هغه پورې تړلی او ضعیف حکومت دلته واک ولري او منځنی آسیا ته یې لارې په خپل واک کې وي. دپاکستان ګټې په افغانستان کې د جګړې په دوام پورې تړلې دي، نو ځکه دلته بیلابیلی متعصبې او افراطي اسلامي ډلې لکه داعش، جیش محمد او نور روزي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغانستان سره د هندوستان اقتصادی مرستې د پاکستان د غوسې لامل شوي دي او دهغو په ویجاړولو لګیادی، د بیلګې په توګه ځوځو ځله طالبانو هندی انجنیران تښتولي او په سفارت یې حملې کړې دي ، د سلما د اوبو د بند، د کونړ پرسیند د اوبودبند او د زرنج- دلارام د لویې لارې د جوړولو خنډ ګرځیدلی دي.
په سیمه ییز اړخ کې د ایران رول هم ویجاړوونکی دی. ایران سوریې ته هم دالقاعده او داعش تروریستي ډلو په وړاندې د فاطمیون په نوم د افغان مهاجرو په لیږلو سره په منځنۍ ختیځ کې د عربستان، امریکې او د دوی دشریکانو ټولې خوارۍ په اوبو لاهو کړی، نوځکه اوس د افغانستان د جګړې اور ته پکی وهي.
سعودي عربستان په افغانستان کې د وهابیت دپراختیا او د تشیع له مذهب سره د مبارزې په خاطر منفي رول لري، چې د ډیرو زیاتو پیسو په لګولو سره یې په پاکستان کې د نویوجنګیالیو د روزلو مدرسې او ترور ته د دوی په رااستولو کې مرسته کوي، چې دا ټول په افغانستان کې د جګړې د دوام لامل شوي دي.
د چین دولت په افغانستان کې بیلابیلې ګټې لري. د نړۍ دغه نوې اقتصادی قدرت چې یو لوی پانګوونکی بلل کیږي، لکه دپاکستان په شان، افغانستان ته د یوه ګنج په توګه ګوري. له پاکستان او طالبانو سره نږدې اړیکی ساتی، خو له بلې خوا دخپلو دننه د افراطیت اونا‌امنۍ څخه په ویره کې دی او په دې لټه کې دی چې افراطیت د افغانستان دننه همداسې ایسار پاتی شي. چین د بدخشان په پولو کې د سرکښه تروریزم او تاوتریخوالي له ګواښ سره سره د خپل اقتصادی سیال یعنی امریکا په وړاندې یواځې ځارونکی نه دی، بلکې هڅه کوي چې خپل دغه سیال ته ګوزارونه ورکړي، نو ځکه په افغانستان کې د جګړې د پایته رسیدو لپاره خوښ نه دی، نو له همدې امله د خپل ستراتیژیک شریک یعنې پاکستان ملاتړ کوی.
د روسیې فدراسیسون په کلکه سره په افغانستان کې د لویدیزو هیوادو د ځواکونو له شتون سره مخالف ده او نه غواړي چې په منځنۍ آسیا کې د دوی دنفوذ ساحې ته کوم زیان ورسیږي، نوځکه طالبانوسره تودې اړیکې پالي او ویې کولای شول چې هغه طالبان چې د امریکا او دهغې د انډیوالانو په لاس رامنځته شوي وو، خپلو ستراتیژیکو او جیوپولیتیکو اهدافو کې په کار یوسي. د طالبانو او پخوانیو مفسدینو په ګډون په مسکو کې د وروستۍ غونډې جوړیدل همدا خبره ثابتوی، نوځکه روسیه هم خپلو لویدیزو سیالانو باندې د ګوزارونو په خاطر دلچسپی لري.
د امریکې متحده ایالات او ناتو په افغانستان باندې دیرغل او د جګړې اصلی عاملین دي، چې په روان کړکیچ کې اساسي رول لري، چې د دوی د نظامی ځواکونو له وتلو پرته کومه عادلانه او دایمي سوله نشی راتلای. دوی د خپلواقتصادی، سیاسی او نظامی ستراتیژیکو پلانونو له مخې د افغانستان اومنځنۍ آسیا طبیعی سرچینوته سترګې نیولې دي اوتروریزم سره جګړه یې یوه بهانه کرځولی، په اصل کې دخپلو اقتصادی، سیاسی او نظامی ستراتیژیکو موخوپه لټه کې دي. امریکا غواړي چې له افغانستان څخه د ټوپ وهلو د دړې په توګه کار واخلي او خپل اصلي سیالان یعنی روسیه، چین او ایران له پښو وغورزوي، نو ځکه د افغانستان په ستومانه کوونکی جنګ کې د امریکې د نظامي اډو په شتون سره تروریزم او تاوتریخوالی نور هم پراخیږي. په دې توګه د سولې راتګ یوه پیچلی معما ګرځیدلی چې ګڼ شمیر لوبغاړي او متضاد اړخونه لري.
د ستونزې دحل لپاره باید لومړی دغه پیچلتیا او د جګړې عوامل له منځه ولاړ شي،د فساد، ملی افتراق، بیعدالتی، جنایتکارانو د فعالیت او مخدره توکو د کښت او قاچاق د مخنیوی لپاره سیاسي اراده پخه شي او د دې اجازه باید ورنکړل شي چې په افغانستان کې د سیمې او نړۍ د هیوادونو سیالی دوام ومومي. باید جنګی اقتصاد ته دپای ټکی کیښودل شي او د سیمه ییزو او نړیوالولوبغاړو، اروپایي اتحادیې، دشانګهای د ګروپ، اسلامی بی غرضه هیوادو او ملګروملتونو ترمنځ همکاری ولټول شي. له نیکه مرغه اروپایی اتحادیې د سولې دتضمین په هکله لومړنۍ شفاهی ګام اوچت کړ. له دې سره یو ځای که طالبان د افغانستان دولت سره په خبرو کې موافقې ته ورسیږی او د موجوده نظام یو قوی مټ شي، د منکراتو مخه به ونیول شی او دوی به دا موقع ترلاسه کړی چې د محمدی غراشریعت لپاره په خلاص مټ دقانون په رڼا کې کار وکړی. د افغانستان منابر د دوی په واک کې دي او دافغانستان مومن ملت دوی ته درناوی کوي. دوی به د دعوت معقولو لارو څخه بیرته ټولنه د اصلاح لوري ته بوځي. په داسې یوه فرصت کې به دبهرنیو ځواکونو د عاجل وتلو، د نورو راتلونکو کلونو لپاره د افغانستان د پوځ د پیاوړی کولو، د دولت دستې د سالمې رغاونې او د افغانستان د خلکو د هیله منۍ لپاره به د بهرنیو مرستو موضوع باندې بحث وشي، لوټ شوې پیسې به بیرته ترلاسه اود هیوادبیارغاونه کې به ولګول شي. ټول ملی ځواکونه او ځوان کول په دې برخه کې عملي ګامونه اوچتولای شي. د دې وضعیت په راتګ سره نور امریکاییانو ته دپاتی کیدو دلیل نه پاتې کیږي. راځئ خپل حال په خپله بدل کړو. راځئ دسږکال پسرلی دافغانستان د بیرته زرغونیدو په پسرلی بدل کړو، راځئ هم په خپل وطن، هم یې په خلکو او هم یې پر طبیعت زړه وسوځو. سوله خیر دی. تر ذلت څخه عزت غوره دی، ترتبا کوونکی جنګ څخه تفاهم غوره دی. د اشغال دوام، دپردیو د ګټو لپاره نیابتي جګړې، ملي او معنوی ارزښتونوسره خیانت، مالی، اخلاقی او ټولنیز فسادخورول، د مشرانو او تاریخی مفاخرو سپکاوی، تعصبات او افتراق زموږ لپاره یو لوی پیغور دی. راځې دغو منفی ښکارندو ته نه ووایو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پوره څرګنده ده چې د افغانستان په جګړه کې ښکيل اړخونه دخپلو ګټو په لټه کې دي، نوځکه دافغانستان خلک بايد خپله يو مستقلانه تصميم ونيسی او لکه د واحد ملت په شان ځان راټول او دپرديو له فشار ځان خلاص او ځانته ملی آجندا وټاکي. دقطر غونډه، راتلونکی مشورتی جرګه او انتخابات د دغه مقصد لپاره ښه فرصتونه دي.

دا په داسې حال کې چې نوې کال به دپريمانی او د الله(ج) د رحمت کال وي، دا ځکه سږکال تر پخوانيو کلونو ډير بارانونه وشول او دخلکو په تجربو، سياسی بصيرت، د ځوانانو په اراده او قضاوت کې هم پوره مثبت توپير راغلی دی.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاریَ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ